مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهاند محمد بشیر دودیال

۲۰۲۳/۰۸/۰۹

# نوې وګړشمېرنه، پړاوونه او ستونزې

## (دوهمه برخه)

وګړ شمېرنه او دیموګرافي د نفوسو احصاییوی مطالعه ده، چې د نفوسو کمی او کیفی مشخصات را ښیي او د وګړو په ژوند کی دینامیزم او بدلونونه را ته څرګندوي. نه یواځې دولت اود هیواد دننه ادارو ته بلکې، د ملګرو ملتونو ټولو موسساتو او په تېره د نفوسو نړیوال صندوق ته هم ضرور ده. په همدې خاطر دغه صندوق دې برخه کې مرسته کوي او د یوې پروژې په توګه یې تمویل او فنډ یې په غاړه اخلي، یعنې دکار دا ساحه او لګښتونه یې بشری مرستې ندي چې کله پوره وي او کله نه، بلکې د صندوق بودجه ده. په لومړنی بشپړه وګړشمیرنه کې دهیواد ټول نفوس په یوه اونی کې وشمیرل شو، خو اوس وخت کې هیوادونه کوشش کوي، سرشمیرنه ۲۴ساعتونو کې بشپړه کړي، داځکه چې د دیموګرافی د اصطلاح سره سم؛ نفوس لکه دسیلاو یاد اوبود جریان په شان دی چې هره شیبه یې بڼه بدلیږي. په تیر بیا چې اوس په پرمختللو هیوادو کې کورنیو ته آنلاین پوښتنلیکونه لیږل کیږي، او د ارقامو ټولول یوه شپه - ورځ کې ترسره کیږي. خو د افغانستان په شان هیواد کې د دې میتود امکان نشته، نو هماغه دعنعنوی مخامخ او سیده مرکو په ذریعه به سرشمار د هر واحد له مشر سره جدا جدا مرکه کوي او هر وګړی به جلا جلا شمیري او ټول خصوصیات(سن، جنس، شغل، سواد اود تعلیم درجه، عاید، ...) به یې پوښتلیک کی درج کوو. پرته د نفوسو د شمیر او د هغه د خصوصیاتو له پوهیدو هیڅ ډول ملی برنامه، پلان یا پروژه نشی عملی کیدای.

دیوې سرشمیرنې لپاره لاندې پړاوونه ضرور دي:

1. **دپلان جوړونه** : په دې کې دټول هیواد لپاره د وګړشمیرنې ټول تدابیر، واحدونه، سکچ میونه، پرسونل، حوزې، مالی مسایل اونور پلانګذاری کیږی،
2. **د چمتووالی مرحله**: په دې کې دخلکوخبرول، د لازمی اسنادو، پوښتنلیکونو، د کارکوونکو روزنه، دسرګروپانو ټاکنه، ساحاتو ته د سکیچ میونو رسول، ګروپونو ته دپوښتنلیکونو سپارل، دکنترولرانو ټاکل، مربوطه ساحو سره د سرګروپانو بلدتیا او نور مسایل شامل دی.
3. **د شمیر پړاو**(enumeration) : په افغانستان کې آنلاین شمیرنه نشی کیدای، موږ اړیاستو هماغه پخوانی عنعنوی طریقه باندې مخامخ مرکې وکړو او یویو وګړی باید جدا جدا وشمیرل شي. د شمیرنې واحد کورنی وټاکو. له دې امله چې له هر کلی او هر کور څخه مسافر او مهاجر لرو، نو د کره شمیر معلومولو لپاره باید په مشخص ډول ډیفکتو یا دیجور؛ یو روش قبول شی، دا پړاو له یوی اونی څخه باید اوږد نشی، د یوې ټاکلی شپې له ۱۲بجو پیل او د بلې اونی په دولسو بجو پای ته رسیږي.
4. **د ارقامو تحلیل او نشر:** څینو هیوادو کې دنشر پړاو جلا بولي، خو موږ به د ارقامو تحلیل او نشر په یو پړاو کې راوړو. د ټولنې، مسلکی همکارانو اودونر( UNFPA) اعتماد ساتل ډېر ضرور دي. تحلیل باید د مسلکی او په تکنالوژی د وارد کسانو له خوا وشي. په دی مرحله کې د نفوسو ټول کیفی او کمی خصوصیات په تفکیک او ډېر وضاحت سره ښودل کیږي. سنی او جنیستی ګروپونه، وزګار او په کار بوخت، د شغل ډول اودعاید اندازه، کوچی او ده شین، ښاري او کلیوالي، باسواد او بیسواد، ماهر او غیر ماهر... ټول اوصاف باید تحلیل او درج شي.

د چمتوالی (دوهمه) مرحله کې د پوښتنلیکونو جوړولو کې دقت په کار دی، پوښتنې باید واضح او د ټولو معلوماتو احتوا کوونکی وی. اصلی پوښتنلیک سره ضمیمه فرعی هم وی، د کلیوالی ، ښاری او کوچی نفوس پوښتنلیکونه یوبل سره توپیر لري، اصلی پوښتنې او د اشتقاقی معلوماتی پوښتنې بیلول هم ضرور دي. دپوښتنلیکونو برخه کې موږ تیره بشپړه سرشمېرنه کې نیمګړتیا او ستونزه نه لرله. کیدای شی، تر ډیره له هماغو بیلګو بیا بیا استفاده وشي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

البته تیرو شلو کلونو د مسکن، زراعتی سروی ګانو، سوداګری او نورو احصائیو کی د نويې تکنالوژۍ غوښتنو سره سم، تعدیل شوی پوښتنلیکونه جوړ او معمول شوي دي. دا نويې تجربه هم باید هېره نشي.
د شمیر پرمهال باید وګړ شمیرونکي ټرینګ شوی وی، غلطی ونه کړي، هرګروپ به دسرګروپ په لاسلیک معین شمیر پوښتنلیکونه او فورمی اخلی او بیا به يې بیرته پوره تسلیموي. د کنترولرانو دنده تر دي هم مهمه ده، ځینې معلومات محرم دي، چې په هیڅ صورت يې د افشا اجازه نشته. دارالمساکین، دارالتادیب( پالنځی)، مرستون، دارالمجانین، عسکری فرقو او دي ته ورته ځایونو څخه معلومات او سوالنامی ډکول ځانګړی طرز لری. دا هریو د (کورنی) پرځای یو جلا واحد دی. کنترولران او سرګروپان به د هرې ورځې اسناد مربوطه مرکز ته په هماغه ورځ رسوي. په دې ډول دا یوه له مسئولیت ډکه دنده ده. یو وګړشمیرونکی د بل ساحې ته د ورتګ اجازه نلری، دوی هر یوه سره به دسکیچ مپ له مخې د خپل کار د سیمې نقشه وي. دوه ځلې شمیرنه، له شمیر څخه د یوی ساحې پرېښودلو او کم شمیرلو اجازه نشته. ډیره به ښه وي چې د چمتووالي مرحله کې د یوڅو ښاری، یوڅو کلیوالی او یوڅو د کوچیانو یوه پایلوت شمیرنه (رهنما- آزمایینتي) وګړشمېرنه وشي او په دقت ټسټ شي، د دې نتیيجه دې د ټرینګ پرمهال کارکوونکو ته وویل شي.
د چمتووالی مرحله کی مهمه ده چی میډیا او دسیمي ملاصاحبان او مخور د سرشمیرني د اهمیت په هکله خلکو ته معلومات ورکړي او د هغوی ذهنیت روښانه کړي. باید د سرشماری د واحد(کورنۍ) مشران پوښتنو ته صادقانه ځواب ووایی. د نومونو په هکله دقت په کار دی، ځینې نومونه لکه شمشاد، نیلاب، ګل جان،.. هم دنارینه او هم د ښځینه وي، باید غلطی ونشی، د کور مشر باید پرته له کوم عیب د کور د ښځینه او نارینه وو تعداد، عمر او نومونه او شغلونه، دتاهل وضعیت(مدنی حالت)، معیوبیت او نور مسایل پټ نه کړی، ځکه سرشمیرونکي د دې مسایلو محرم او سرشمیرنه د ټول هیواد مسئله ده. تیره بشپړه وګړشمېرنه کې نورې ټولې پوښتنې وې، خود قوم او ژبې پوښتنې نه وی، غوره به وي چې دا ځل هم دا پوښتنه نه وي.
څلورمه مرحله کې ټول پوښتنلیکونه چې د شمیرونکي، سرګروپ او کنترولر لاسلیک لري، مراکزو ته راټول او محفوظ ډول باندی مرکزی دفتر( د مرکزی احصائیې اداری) ته راوړل کیږي او وروسته تر هغه د ماشینونو په ذریعه جمعبندی او هره کتګوری جلا تحلیل کیږي. دا مرحله یواځې مسلکی روزل شوی پرسونل ترسره کوي. دا یوه بله ډیره پیچلی او د دقت غوښتونکی مرحله ده. ﷲ الحمد تیرو شلو کلونو کې موږ وکولای شول، په دې ډول دندو کې ګڼ شمېرځوانان د هیواد دننه او بهر بیلابیلو ورکشاپونو، سفرونو، سیمنارونو او کورسونو کې ټراین او دغه ټرینګ شوي ځوانان استخدام کړو چې هریو يې اوس کاري تجربه لري. سره له دې چې یو شمیر يې مهاجر شول، خدای وکړي په وطن کې پاتې برخه يې له هیوادوه ونه وځي. زموږ لویه خوشحالی تیرو شلو کلونو کې د مرکزی احصائیې، ګمرکاتو، دتذکرو د ویش، د مالیې وزارت او بانکونو لپاره د روزل شویو ځوانانو او په تکنالوژۍ سمبال دفترونو جوړول وو. اوس یواځې د تذکرو د ویش نه، بلکې ډیرو نورو ځایو کې هم د بایومتری تکنالوژۍ او روزل شوی ځوانان لرو. دا مهارت او دنوي تکنالوژۍ مزیت د لومړنی سرشمیرنې په پرتله یو لوی سهولت او د باوری ارقامو د دقیق تحلیل خبر راکوي. ( دوام لري).


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ